# له تشدد څخه نفرت
# او
# له عدم تشدد څخه محبت زېږي

سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار

پروسږ کال د ډیلي د جامعه ملیه اسلامیه پوهنتون د نېلسن منډېلا په نامه د سولې په مرکز کښې "د اسیا د جنوب په سیمه کښې سوله او امنیت" تر عنوان لاندې علمي، څېړنیز سیمینار ؤ.

هلته په دغه ورځ (د ۲۰۰۸ د اکتوبر په دوهمه) ما د افغانستان د علمي هېئت د غړي په حېث وېنا کوله او د وېنا په پایې کښې مې ووئیل:

نو په دې نړۍ کښې چې د تاریخ د ټولو دورو په تناسب اوس د زمکې د کُرې په سر د تشدد سامان او وسائل ډېر هېبتناک او ډېر خطرناک او بېخي ډېر شوي دي، د نړۍ د انسان او د هغهٔ د مدنیت د ژغورلو دپاره هر چرته، د هر چا له خوا، د هر رنګه تشدد د مخنیوي ضرورت بېخي زیات محسوس او ملموس دے.

راځئ چې په هم دې نیت، په هم دې باره کښې ژور فکر وکړو، په هم دې موضوع خپله مطالعه پراخه کړو، هم دې ته ځان تیار کړو او تر هر څهٔ نه وړاندې د سرو زرو په تختو په سپینو زرو یا د سپینو زرو په لوحو په سرو زرو یا تر هغو لا یو قدم وړاندې د خپلو پاکو زړونو او روښانو ذهنونو په لوحو، په ډېره مینه د فخر افغان بابا دا کرښه ولیکو:

"له تشدد څخه نفرت او له عدم تشدد څخه محبت پېداکېږي".

ښاغلي سرور ماموند په انګرېزي ژبه زما د وېنا ترجمه کوله. د وېنا په تېره بیا د تېرو کرښو ډېر هر کلے وشو، ان تر دې چې د اورېدونکو له ډلې څخه یوه بوډۍ مېرمن په لړزېدلې بڼه ستېج ته راغله او وې وئیل چې تا زما د ځوانۍ د دوران خاطرې رایادې کړې، د هغه وخت چې باچا خان دلته تشریف درلود او مونږ ته ئې د خدائي خدمتګارۍ او عدم تشدد د اصولو لارې ښودلې، زهٔ دلته راغلم چې زهٔ له نزدې نه ستا د سترګو زیارت وکړم، د هغو سترګو چې ډېر ځله ئې د باچا خان سترګې لېدلې دي. بوډۍ زما سترګو ته ځیر ځیر کتل او زار زار ئې ژړل.

د هم هغه کال د نومبر په ۲۸مه نېټه د افغانستان د فرهنګي ودې ټولنې د جرمني د کولن په ښار کښې د "باچا خان د امن او عدم تشدد ستر مبارز" تر عنوان لاندې نړیوال علمي، څېړنیز سیمینار دائر کړے ؤ، ما هلته هم وېنا وکړه او هغه پاسنۍ بلنه چې ما په هندوستان کښې وړاندې کړې وه په جرمني کښې مې هم وړاندې کړه او د مننې په توګه ئې په تودو چکچکو هرکلے وشو.

نن ډېر ویاړم چې د اسیا په زړهٔ د کابل په ښکلي ښار کښې ستاسو په خدمت کښې ولاړ یم، په هغه ښار کښې چې د افغانستان د استقلال تر اعلان وروستو دلته خان عبدالغفار خان د خپلې ځوانۍ په دوران کښې د اعلیٰحضرت امان الله خان غازي سره کتلي او خبرې اترې کړې دي او بیا د هم دې ښار د هم دې انګړ د "ستوري مانۍ" کښې د ستر لیکوال، شاعر، ژورنالست او ډیپلومېټ محمود طرزي سره ئې ملاقاتونه کول او د لر بر تاریخي هېواد د کشالو او پرابلمونو په برخه کښې ئې ورسره د خیالاتو تبادله کړې ده.

زهٔ دلته ستاسو توجه د ملي ویاړلي تاریخ هغو شېبو ته هم اړوم چې کله له لرې پښتونخوا نه راغلي

**"د افغانستان او ازادو قبائلو حالت چې مې ولیدو او پنځلس کاله مې په هندوستان، قبائلو او افغانستان کښې غرزې پرزې وکړې نو په دې نتیجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره اسان څیز نهٔ دے، انقلاب د سړې سینې کار دے، انقلاب عمل او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي، چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته ئې اماده کړي. د انقلاب دپاره د اشخاصو ضرورت دے، تهٔ ګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو، ټول لاړل خوارهٔ شول نو کښېناستم، د ځان سره مې ښهٔ فکر وکړو، زهٔ په دې نتیجه ورسېدم چې زمونږ د قام نهٔ د تجارت خوا ته توجه شته، نهٔ د صنعت خوا ته، نهٔ د زراعت خوا ته او نهٔ د تعلیم خوا ته. د بلې خوا نه په رسمونو رواجونو کښې تر غوړونو پورې ډوب دي. په خانه جنګیو اخته دي، داسې قام انقلاب نهٔ شي راوستے او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دي چې سیاسي شعور په کښې پېدا شي او دا کار یوه پرامنه فضا غواړي. تر دغه وخته پورې زهٔ په دې عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي، تشدد راته د انقلاب نزدې او د کامیابۍ لار ښکارېده خو د تجربې نه وروستو راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نهٔ تیارېږي نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم او د انقلابي اشخاصو د تعلیم او تربیت دپاره قومي مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زهٔ چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګیانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې....." (د باچا خان اټوبایوګرافي "زما ژوند او جهدوجهد"- دوهم چاپ-۱۶۸ مخ)**

درانهٔ مېلمه، د هېواد بادشاه، د خارجه چارو د وزیر او د ښاغلي عبدالهادي خان داوي، جنرال محمد نادر خان، سردار محمد هاشم خان، سردار محمد عزیز خان او ګڼو روښان فکرانو او چارواکو سره لیدنې کتنې، مفاهمې او مشورې وکړې، بېرته خپل کور کلي ته واپس شو او هلته ئې د عدم تشدد په اصولو د خپل ملي سیاسي، ټولنیز او فرهنګي غورځنګ بنسټ کېښود.

"د افغانستان او ازادو قبائلو حالت چې مې ولیدو او پنځلس کاله مې په هندوستان، قبائلو او افغانستان کښې غرزې پرزې وکړې نو په دې نتیجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره اسان څیز نهٔ دے، انقلاب د سړې سینې

کار دے، انقلاب عمل او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي، چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته ئې اماده کړي. د انقلاب دپاره د اشخاصو ضرورت دے، تهٔ گوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو، ټول لاړل خوارهٔ شول نو کښيناستم، د ځان سره مې ښهٔ فکر وکړو، زهٔ په دې نتيجه ورسيدم چې زمونږ د قام نهٔ د تجارت خوا ته توجه شته، نهٔ د صنعت خوا ته، نهٔ د زراعت خوا ته او نهٔ د تعليم خوا ته. د بلې خوا نه په رسمونو رواجونو کښې تر غوږونو پورې ډوب دي. په خانه جنګيو اخته دي،داسې قام انقلاب نهٔ شي راوستے او دا قام د دې بلاګانو نه خلاصول پکار دي چې سياسي شعور په کښې پيدا شي او دا کار يوه پرامنه فضا غواړي. تر دغه وخته پورې زهٔ په دې عقيده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي، تشدد راته د انقلاب نزدې او د کاميابۍ لار ښکاريده خو د تجربې نه وروستو راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نهٔ تيارېږي نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار کوم او د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت دپاره قومي مدرسې جوړوم نو ځکه اتمانزو ته راغلم.زهٔ چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوشش مې کولو چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې....." (د باچا خان اټوبايوګرافي "زما ژوند او جهدوجهد" - دوهم چاپ-۱۶۸ مخ)

له ښهٔ مرغه نن چې دلته ((د اسيا په جنوب کښې د عدم تشدد مفکورې او غورځنګونه)) تر عنوان لاندې کانفرنس روان دے او ما خدمتګار ته هم د خدمت موقع راکړې شوې ده، په ډېره مينه او ادب اول هم هغه د ډيلي او کولن په غونډو کښې خپلې بلنې ته ستاسو توجه اړوم، ستاسو د زړهٔ او ذهن د منښې سره په دې لار کښې ستاسو د فکري، علمي او عملي برخې اخستو توقع لرم او هم دا د نن ورځې د بشري نړۍ د ډېرو دردونو درمل ګڼم. دا درمل (عدم تشدد)) نومېږي او د هغهٔ په ارتباط يو څو ټکي نور هم عرضوم:

درنو دانشورانو!

تاسو پوهېږئ چې په ډېرو لرغونو زمانو کښې انساني ژوند د ډېرو ستونزمنو دورو څخه ورو ورو د ټولنيز ژوند رڼاګانو ته راوتلے دے، مګر له هم هاغو لومړنيو شېبو سره د بنيادم په سرشت کښې د نورو ژوو په شان د اشتها او شهوت غريزې موجودې وې، د هم دې غريزو په اثر له يوې خوا د انسانانو د ژوند بقا او د نسل بقا او ارتقاء تامينېدله او له بلې خوا د هم دې غريزو د اطفا د وسائلو د ترلاسه کولو په لاره کښې کله کله لا ډېر ځله د دوي ترمنځ د تشدد، جنګ او جګړو اورونه بلېدل.

د هم دغو غورزو پرزو سره انساني ژوند له فردي يا قبيلوي ساحې څخه ټولنيزو ډګرونو ته ارتقاء کوله او د ټولنو د تشکل ضرورت هم، کهٔ څهٔ هم تر ډېره ځايه پورې د طبيعي غريزې انسياقاتو لاندې محسوسېده، مګر په خوا خوا کښې ئې د امنيت احساس، هم خپل اغيز درلود. کهٔ څهٔ هم بيا د يوې ډلې يا ټولنې امنيت، هم هغه د غريزو د اقناع د وسائلو په سر، د بلې ډلې يا ټولنې له امنيت سره په ټکر کښې واقع کېده او د هم دې ټکرونو او تضادونو سره بيا هم ټولنيز ارتقائي سير تل انکشاف کړے دے او د هم دې ضرورت او ټکرونو

په بهير کښې مدنيت هم د تکامل په لور خوزېدلے دے.

يو شمېر اوسني پوهان وائي چې د انسان يو توپير له نورو ساکښو سره دا دے چې نور ژوي په غريزي ډول ژوند کوي، څۀ چې په مخه ورشي هغه خوري چې تږي شي اوبۀ څښي او چې ستړي شي دمه کوي او هر چرته چې وي اودۀ کېږي او انسان د غريزي ترڅنگ شعور هم لري، د شعور په رڼا کښې يو څۀ نن خوري يو څۀ سبا ته ځېرمه کوي او په داسې ځائے کښې اودۀ کېږي چې د اب وهوا د تودو سړو او د نورو ځناورو له شر نه په امن کښې وي، يعنې ((د امنيت ضرورت هم احساسوي)).

دلته په دې برخه کښې هم دومره اشاره کافي بولم ځکه چې پوهان په اشارو پوهېږي او لږ څۀ پرمخ ځم.

کله چې بنيادم د ژوندانۀ د وروستو والي او وروستو پاتې ځنگلي ژوند له تيارو څخه وتلے او د شعوري ارتقاء په يوه مرحله کښې د ښکار د غوښې په ځائے د څارو روزلو ته ئې توجه اوښتې وه، د غرونو د سمڅو او د ونو د ډډو او څپرونو په ځائے ئې د گټو خټو کور ځان ته جوړ کړے او په بل قدم کښې ئې له کور کورونو څخه کلے جوړ شو او په هم هاغه حالت د ځنگلي مېوو او سابو د خوراک په ځائے يا د هغو تر څنگ د بوټو د کرلو چارو باندې لگيا شو او په دې لاره کښې ئې دومره مزل وکړو چې د دغو ټولنيزو چارو د تنظيم او په هغو کښې د امنيت د خوندي کولو دپاره د کور مشر، د کلي د کورونو مشر، د کليو مشر او د سيمې مشر، د ټولنو د جوړښت، چلېدنې، انکشاف او ارتقاء دپاره منځ ته راغلۀ، تر څو چې خبره په هره لويه وړه طبيعي جغرافيائي سيمه کښې او د هغو د اوسېدونکو د اصل نسل د اشتراک سره د يو لوئے مشر، يا ستر ټولواک د شتۀ والي مرحله ورسېدله او وړې وړې بادشاهۍ منځ ته راغلې.

په دغه مهال انساني غريزو هم د ((شعوري)) استعدادونو څخه په کار اخستو د غريزو د چلند وسائل يو تر بله سره غصبول يا د طبيعت له لمنې څخه يو لږ او بل ډېر برخمن کېدۀ نو له دې څخه اقتصادي توپيرونه منځ ته راغلۀ او د هغۀ په نتيجه کښې عام اکثريت هر چرې په دغسې ټولنيزه فضا کښې له راز راز ستونزو سره مخامخ کېدل.

نو د بشري ژوند د بې لارې توب د لوړو ځوړو د تاريخ په تورتمونو کښې د انسان د ذهن او ضمير د روښانولو دپاره يو شمېر صالحو مصلحانو، لارښوونکي ډيوې بلې کړې دي او پرمخ تلونکې قافلې ته ئې نېغه لاره ښودلې ده.

په هغه دوران کښې چې يو پر بل د تېري او تجاوز اورونه په غرغرو وو، د زمکې په سر يو زلمے هوسا ساهو شهزاده، د شاهي ماڼۍ د نرم او گرم بستر له خوارۀ او درانۀ خوبه راويښ شو، له شاهي بڼ څخه ووت، په ښار، بازار، تنگو دُوړنو او بويونو کوڅو کښې وگرځېد، خوار و زار زېلي او نتلي خلق ئې وليدل، په اوږو لوڅو لپړو ماشومانو او په بېوزلو بې درملو رنځورانو پېښ شو، د انسانانو بدبختيو ته ئې پام شو.

نو بل سهار، کله چې سپېدې وچاؤدې، د سهار د گلونو په شان د خپل ښکلي ماشوم ښائسته مخ ئې ښکل کړو، هغه ئې له خوبه راويښ کړو وې وئيل: زويه! د خدائے په امان!

بل څوک ئې په ځان خبر نهٔ کړو، په خپل ځغلېدونکي اس سور شو څو چې د تاودهٔ لمر رڼا تیارهٔ دنیا روښانوله دے د خپل پلار د شاهۍ له پولې څخه اوښتے وٚ.

ارزمند اس ئې له نورو لوازمو او ښائسته ډېرو سپینو سرو زرو سره خپل مربي ته وبخښل، هغه ئې ازاد کړو او په خپله د انسان د ازادۍ او هوساینې په لټه د عادي خلقو په جامو پلے روان شو.

مندرونو ته ولاړ، د وخت د پوهانو سره کښیناست، پوښتنې ګروېږنې، څېړنې او پلټنې ئې وکړې..... مګر د ناسمیو د سمون سمه لار ئې ونهٔ موندله.

په ښارو مېرو سر شو، شړو بېدیاوو او سمسورو ورشوګانو ته ولاړ، د شپنو شپېلۍ ئې واورېدې، د صحرائي رنګارنګو ګلانو ننداره ئې وکړه، د سحرونو او ماښامونو د نمر ختو او پرېوتو ښکلي منظرې ئې وکتلې، د دریابونو څپاندو څپو ته ځیر شو... په فکرونو کښې ډوب شو، دې ته ورسېد چې دا هر څهٔ د انسان دپاره دي، مګر هغه په خپله؟

له خلقو ګوښې ځنګلونو ته لاړ، په سوچونو بوخت شو.

له لېونیانو سره مل وے

ناست په ځنګل وے چې مې نهٔ لیدې غمونه

یوه نایابه ارزمنده ملغلره ئې لټوله، د دې مرغلرې نوم وٚ مینه، یعنې له هر چا سره مینه له ژوند سره مینه، له ژوندو سره مینه او د ژوندانهٔ له خالق سره مینه....

څهٔ نوره موده ئې هم مراقبه وکړه، په مکاشفه کښې دې ته ورسېد چې د مینې د دې مرغلرې دښمن غل دے، د غلهٔ نوم نفرت دے، هڅه ئې وکړه چې هغه لار ومومي چې د مینې ښائسته ملغلره د نفرت له غلهٔ څخه په امن کښې پاتې شي.

نو شهزاده ملنګ، یا ملنګ شهزاده، دغه سمه لار په داسې مفاهیمو کښې وموندله:

انسان په رنځ او عذاب اخته دے.

د رنځ او عذاب علت د نفس خواهشات دي.

کهٔ څوک غواړي چې له رنځ او عذاب څخه وژغورل شي نو باید د نفس خواهشات پرېږدي!!

له تشدد او نفرت څخه لرې، د دې هوسا ارام او ښکلې نړۍ د جوړولو دپاره باید انسان: "دروغ ونهٔ وائي، غلا ونهٔ کړي، بل انسان د ځان غوندې وګڼي، هغهٔ سره دې مینه ولري، مرسته دې ورسره وکړي، کینه، حرص، حسد او نفرت څخه دې ځان وساتي، تشدد او د بل په مال او ځان دې تېرے نهٔ کوي، بل انسان، ان تر دې چې بل ساکښ دې نهٔ ځوروي او نهٔ دې ئې وژني.

د بشریت د بې لارۍ د لوړو ژورو، کندو کپرو، پېچومو او کږلېچونو د تاریخ په تور تمونو کښې د مینې د مرغلرو روښانه ډیوه مهاتما بودا ولګوله. له هم دې رڼا سره د انساني ژوند په سمه لویه لار په خپله نبغ روان شو، نور کسان ئې هم د غفلت له درانهٔ خوبه راویښ او ځان سره ئې ملګري کړل، دې ځاروان پسې لوئے کاروان روان شو.

ورو ورو، د بودا او د هغهٔ د ملګرو د ریاضت، کار، زیار او عملي اوشفاهي تبلیغ د دغې لویې لارې تعلیمات د هغه وخت نژدې په ټوله ودانه نړۍ کښې عام شو. د هم دې لارې د تعلیماتو په پلوشو کښې کوشاني اقتدار رامنځته شو، په مخ لاړو او د ودانې نړۍ په پراخیو سیمو ئې بېرغ ورپېد او نغاره ئې ډنګېدله.

وروستو وروستو بیا هلته د شام په ((ناصره)) کښې حضرت عیسٰي علیه السلام مبعوث شو، د عدم تشدد پیغام ئې ورساوهٔ، نور خو نور د هغهٔ ارشاد تر اوسه پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د مینې، محبت او انساني وررولۍ د یو لوړ شعار په توګه په غوږونو کښې ازانګه کوي چې وائي:

((کهٔ چا په څپېړه ووهلې نو د مخ دا بل اړخ هم ورته واړوه))

یعنې دې سره د هغهٔ د کبر او غرور په اور باندې سړې اوبهٔ توئې کړه!

د اسلام مقدس دین کښې د شریعت د احکامو له مخه کهٔ سړے دغو احکامو ته د تاریخ او ټولنپوهنې د فلسفې په نظر ځیر وګوري نو فکر کولے شي چې هلته ټولنیز عادي بنسټ عدم تشدد دے او تشدد پکښې مشروط دے چې دا خبره ځان له پراخه څېړنه غواړي.

دوه تنه چې سره مخامخ کېږي یو وائي السلام علېکم (سلامتي دې وي په تاسو) بل ځواب ورکوي چې (وعلیکم السلام) چې هم هاغه معنٰي لري، دا په خپله د سولې، امنیت، پخلاینې، مینې او عدم تشدد شعار او اعلان دے چې هره ورځ په هره ګړۍ د هر چا له خوا تکرارېږي. سلام سنت او ځواب ئې واجب دے او حضرت محمد صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي له دوو تنو څخه د خدائے رحمت په یو تن ډېر ورېږي، په هغهٔ چې په (سلام) کښې تر هغه بل د مخه شي.

او هم دغه پېغمبرصلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي څهٔ چې په ځان پېرزو کوې په بل ئې هم پېرزو کړه او څهٔ چې په ځان نهٔ لوروې په بل ئې مهٔ لوروه او داسې په سلګونو دساتیر او ارشادات....

څومره خوندوره او په زړهٔ پورې خبره ده چې د اسلام په مقدس دین کښې هم د نفس د خواهشاتو د کنټرول هدایت شوے دے. دا کنټرول اعتدالي بڼه لري یعنې له یوې خوا په دیني نصوصو کښې وئیل شوي دي چې ((ولنفسک علیک حق)) له بلې خوا په قرآن کریم کښې د انسان نفس (اماره بالسوء) بلل شوے او کهٔ هم دغه اماره نفس تربیه او کنټرول شي نو د ((لوامه نفس)) درجې ته رسېږي او د تربیې او تزکیې له دوام سره د ((راضیه)) او ((مرضیه)) مقام مومي او د دې وړ ګرځي چې الله پاک خپل دغه بنده ته امر وکړي چې ((فادخلي في عبادي وادخلي جنتي)) او دا هغه جنت دے چې هلته نفرت او تشدد نشته او د نفس خواهشات تربیه او تزکیه شوي وي. دا جنت په دې دنیا کښې هم جوړېدے شي یا له دې دنیا څخه هم

**دوه تنه چې سره مخامخ کېږي یو وائي السلام علېکم (سلامتي دې وي په تاسو) بل ځواب ورکوي چې (وعلیکم السلام) چې هم هاغه معنٰي لري، دا په خپله د سولې، امنیت، پخلاینې، مینې او عدم تشدد شعار او اعلان دے چې هره ورځ په هره ګړۍ د هر چا له خوا تکرارېږي. سلام سنت او ځواب ئې واجب دے او حضرت محمد صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي له دوو تنو څخه د خدائے رحمت په یو تن ډېر ورېږي، په هغهٔ چې په (سلام) کښې تر هغه بل د مخه شي.**

دغسې جنت جوړېدے شي، ځکه چې الله پاک خپل بنده ته د هغهٔ د صالحو اعمالو اجر هم په دنيا او هم په اخرت کښې ورکوي «والارض يرثها عبادی الصالحون».

د بودا دوران ته نزدې په هم هغو زمانو کښې په لرغوني بلخ کښې سپين تومان زردشت ظهور وکړو چې خلقو ته ئې د ښې انګېرنې، ښې وينا او ښو کارونو د لارښودنې سره هڅه کوله چې هغوي د ژوندانهٔ له مادي او معنوي تيارو څخه رڼا ته وباسي.

کهٔ مونږ او تاسو د زردشت تعليمات په غور او دقيق نظر ولولو نو هلته هم د عدم تشدد مفکوره ځېي وهي.

له ښهٔ مرغه د هم دې کال په هم دې وروستيو مياشتو کښې د «ګاتونه-د زردشت مېنو ئې سرودونه» تر عنوان لاندې کتاب په کابل کښې چاپ شوے دے چې په پښتو کښې ژباړونکے او وړاندې کوونکے ئې اکادمېسين سلېمان لائق دے، د دې کتاب په مطالعه مونږ د زردشت د افکارو ژورو ته ننوتے شو او په هغو کښې د (عدم تشدد) مرغلرې موندلې شو.

دلته دې ټکي ته ستاسو عزيزانو توجه اړوم چې مهاتهابودا له شمالي هنده پاځېدلے دے، د هغهٔ د فکر د شانداره هرکلي لوئے ثبوت په افغانستان کښې د هغهٔ د تعلمياتو د منونکو او خپرونکو کوشانيانو د اقتدار دوره او بيا په دې خاوره کښې د دې آئين مندرونه او بيا د هغهٔ دوه لوئي لوئي لوړې مجسمې دي چې د نړۍ په لرغون او معاصر آرټ کښې سارے نهٔ لري.

زردشت هم د دې خاورې بچے ؤ چې د سپين نژاد اريائي څانګې پورې اړه لري. حضرت عيسیٰ عليه السلام بيا د عبرانيانو وروستے پېغمبر او حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د ټولو پېغمبرانو په لړ کښې وروستے پېغمبر ؤ چې د عربو له توکم څخه د عربو په خاوره کښې مبعوث شوے دے، عبري او عرب بيا د سپين نژاد «سامي» څانګې پورې اړه لري.

يعنې د بشر د تاريخ دغه مشهور شخصيتونه او د دوي موئدين د اسيا له قارې څخه پاځېدلي دي او د ظلم، وحشت، تجاوز او تشدد په تياره نړۍ ئې د مينې، ورورولۍ، همکارۍ، امن، سولې او عدم تشدد رڼا شيندلې ده.

اوس به راشو، معاصر دوران ته:

په شلمه پېړۍ کښې، د پېړۍ د ستر استعمارګر قوت په مقابل کښې چې د وخت د تشدد سامان، وسائل او امکانات ئې بېخي ډېر وو، فخر افغان خان عبدالغفار خان بابا د خدائي خدمتګارۍ د حزب مؤسس او لارښود او مهاتما ګاندي جي د هند د ملي کانګرس لارښود په تشو لاسونو ودرېدل، د خدائي خدمتګارۍ په اصولو او د عدم تشدد د اصولو په عملي کولو د برطانوي هند د نيمې وچې د ازادۍ غوښتونکو د مبارزو لارښودنه وکړه او دا مبارزه ئې بريااليتوب ته ورسوله. يعنې د تاريخ په دې مرحله کښې عدم تشدد په تشدد برے وموند او دا د بشر په ټول تاريخ کښې يواځينے مثال او روڼ مثال دے. دا ټوقه نهٔ ده، دا عېني حقيقت دے او دا هم د اسيا د جنوب د سيمې وياړ.

ما د خپلو معروضاتو په پيل کښې وئيلي دي چې انسان له لرغونو زمانو څخه تر اوسه پورې د خپلو غريزو په مقتضا چلېدلے دے او هم دې د کور او کورنۍ څخه نيولې، د قومونو او ملتونو او بيا د هېوادونو او قارو تر سطحې پورې د جنګونو، جګړو او تشدد د رامنځته کېدلو سبب ګرځېدلے دے او هم دې سره انسان په دائمي رنځ او عذاب محکوم پاتې شوے دے. د اوسني انسان د اوسنيو رنځونو او عذابونو علت هم د دوي د اماره نفسونو خواهشات دي او له هم دې څخه د دوي ترمنځ تشدد، له تشدد څخه نفرت، بيا له نفرت څخه تشدد پېدا شوے او اوسنے انسان د جنګ، تشدد او نفرت د دوزخونو په اور کښې شپې سبا کوي او پرې تېرېږي څۀ چې تېرېږي.

جګړه مار د جګړې په نامه عملاً دوزخ ته ننوځي يا ننه ابستل کېږي. د دوي وارثان د غم او وير په دوزخ کښې ژوند تېروي. امن غوښتونکي بزګر، مزدور، کسبګر، تاجر، ډربور، ميا، ملا، نارينه، ښځينه او ماشومان يا په خوارۀ خوب اودۀ وي يا په خپل کار بوخت وي يا ور روان وي چې درز شي يا د دوزخ بم پرې ولوېږي يا ګرز شي په خوا کښې ئې يا تر پښو لاندې ئې د دوزخ بم وچوي.

د جګړو لارښوونکي ظاهراً په مجللو ماڼيو ناست وي، حکمونه چلوي او ارام ژوند لري، مګر کۀ سړے ځير شي او فکر وکړي چې هغوي هم سړي دي، انسانان دي، (کۀ وي) د نرمو غوښو زړونه او مازغۀ لري، (کۀ ولري) نو د دې جګړو د تعبيو، د بري او ماتې د انديښنو، د نن او سبا د مسووليتونو سوداګانې به ئې تل ځوروي او دننه په ذهن او ضمير کښې به ئې د دوزخونو د اور لمبې غرغرې کوي خو په دې شرط چې دا عالي جنابان ضمير او وجدان ولري.

په دې دوزخ کښې انسانان دومره مضطرب او پرېشان دي چې ان تر دې چې د بشري تاريخ د بشري معارف لارښودنې څۀ چې د معاصرې مثبتې پوهنې په ځينو مهمو اړخونو باندې ځان پوهولو او له هغو څخه کار اخستو ته هم تيار نۀ دے.

او داسې فارمولونو ته هيڅ پام نۀ اړوي چې په کائناتو کښې په تېره بيا د ساکښو په نړۍ کښې او خصوصاً په انساني ټولنه کښې هر حرکت او هر عمل خپل عکس العمل يا ري ايکشن لري. د چا په مقابل کښې د وچولي د ترييولو يا بدې او سختې خبرې د کولو نه نيولې د هغو تر وهلو ډبولو پورې يا د وړو او لويو وسلو نه نيولې، د ايټم بم تر استعماله پورې تشدد، په خپله اندازه لا تر هغې زيات د مقابل لوري په زړۀ کښې نفرت پېدا کوي چې يا د نفرت د احساس په اساس سمدستي هېجاني او احساساتي ځواب ورکوي چې دا په خپله بيا تشدد شو او جنګ شو يا صبر کوي، حوصله کوي، فکر کوي او د عقل لمن نيسي، دلته بيا په نتيجه کښې نفرت په پراخو ابعادو، په فېزيکي مقابلو ځان څرګندوي چې بيا هم تشدد او جګړه منځ ته راځي او دا دور او تسلسل تر هغو پورې دوام کوي څو چې يوه خوا يا دواړه خواوې د انتقام په ځائے له عفوې څخه کار واخلي، مګر تر هغو پورې به ډېرې ورانۍ شوې وي او بالاخره:

آنچه دانا کند، کند نادان
ليک بعد از خرابی بسيار

يالله! تۀ خبر راپېښ کړې.